SHARIAT WEEKLY
شریعت
اوونیزه
په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي
دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان
څلورم کال شپږم، نوي يمه گڼه پرله پسې (۲۸۸) چهارشنبه د ۱٤۲۰هـ ق کال رمضان المبارك (۱٤) د۱۳۷۸هـ ش کال د مرغومي دمياشتي(۱) د۱۹۹۹ميلادي کال د دسمبر (۲۲)

کمیسیون اقتصادي امارت اسلامي افغانستان تشکیل جلسه داد

جلسه کمیسیون اقتصادي امارت اسلامي در مقر وزارت پلان داير گرديد.

بر مبناي گزارش خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر جلسه مذكور كه تحت رياست محترم قاري دين محمد حنيف وزير پلان و رئيس كميسيون اقتصادي امارت اسلامي تدوير يافته بود در آن مطابق به اجنداء روي يك سلسله مسايل اقتصادي و اجتماعي ارائه شده بحث و بررسي قرار گرفته و در زمينه تصاميم لازم اتخاذ و بمقام ذيصلاح امارت اسلامي افغانستان ارائه گرديد.

در جلسه محترم ملا عبداللطيف منصور وزير زراعت محترم مخدوم عبدالسلام سعادت رئيس عمومي كار و امور اجتماعي محترم ملا- الله داد طيب معين وزارت مخابرات، محترم مولوي نجيب الله حقاني معين وزارت ماليه، محترم مولوي فضل- محمد فيضان معين وزارت تجارت ، محترم قاري حمد الله معين وزارت آب و برق، محترم مولوي باقي بالله معاون شاروالي كابل، محترم مولوي عبدالمنان ديوبندي معاون د- -افغانستان بانك، محترم معاون اداره مركز تشويق و انكشاف سرمايه گذاري خصوصي و نماينده گان برخي از وزارتها و ادارات امارت اسلامي اشتراك ورزيده بودند.

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عـدل) ډېر نږدې دی تقوا(پرهيزگـاري) ته .
(سورة المائدة)

توجه!

ايمان شما اجازه نخواهد داد كه اوراق حامل چنين كلمات مقدس را بي حرمتي بگذاريد.

امتحان كانكور جديد الشمولان پوهنتون در ولايت بلخ اخذ گرديد

امتحان كانكور جديد الشمولان در مؤسسات تحصيلات عالي كشور ديروز در ولايت بلخ اخذ گرديد.

آژانس اطلاعاتي باختر از ولايت بلخ خبر ميدهد در محفلي كه بدين مناسبت تدوير يافته بود بعد از آنكه آيات چند از كلام الله مجيد قرائت گرديد محترم ملا نور الله نوري والي ولايت بلخ و محترم عبدالواحد لياقت رئيس پوهنتون بلخ در رابطه به ارزش علم و اخلاق و كسب دانش و تخصص در رشته هاي مختلف مفصلاً صحبت نموده استادان و محصلين را متوجه مسؤوليت هاي آينده شان ساخت.

محفل با دعائيه محترم مولوي علي محمد بلخي رئيس شوراي علماي ولايت بلخ خاتمه يافت.

به تأسي از هدايت عاليقدر اميرالمؤمنين :

اعضاي شوراي علماي كرام ولايت هلمند انتخاب گرديدند

هيأت عاليرتبه امارت اسلامي افغانستان كه به اساس هدايت عاليقدر امير المؤمنين عازم ولايت هلمند گرديده بود بعد از تشكيل شوراي علماء تعينات آتي علماي كرام مورد اجراء قرار گرفت محترم مولوي محمد عمر بحيث رئيس شوراي علماء ، محترم مولوي عبدالروف بحيث معاون، محترم مولوي محمد نبي بحيث مسؤول ارتباط و محترم مولوي سيد احمد بحيث مسؤول اداري ، همچنان در شوراي علماء كرام ولسوالي كجكي ولايت هلمند محترم مولوي سيد ملي بحيث رئيس شوراي علماء ، محترم مولوي نظام الدين بحيث معاون ، محترم مولوي محمد ولي ص ٤

محترم مولوي سيد محمد حقاني سفير كبير و نماينده خاص امارت اسلامي افغانستان در اسلام آباد :

اسامه بن لادن مهمان افغانستان بوده و بر خلاف هيچكس فعاليت نمي نمايد

امارت اسلامي افغانستان در مورد اسامه سياست معقول را در پيش گرفته است

امارت اسلامي افغانستان خلاف تروريزم بوده و هميشه همكاري خويش را با كشور هاي جهان اعلام نموده است

محترم مولوي سيد محمد- حقاني، سفير كبير و نماينده خاص امارت اسلامي افغانستان در اسلام آباد قبل از ظهر ديروز طي كنفرانس مطبوعاتي در جمع خبرنگاران و ژورناليستان و نماينده گان آژانس هاي خبري مقيم اسلام آباد گفتند: اسامه بن لادن مهمان افغانستان بوده و بر خلاف هيچكس فعاليت نمي نمايد.

آژانس اطلاعاتي باختر از اسلام آباد خبر ميدهد : طي اين كنفرانس مطبوعاتي كه عده- يي از خبرنگاران، ژورناليستان و نماينده گان آژانسهاي خبري ص ٤

طي جلسه اي :

امور نظامي ولايت بغلان مورد بررسي قرار گرفت

چگونگي امور نظامي ولايت بغلان قبل از ظهر ديروز طي جلسه يي مورد غور و ارزيابي قرار گرفت

آژانس اطلاعاتي باختر از ولايت بغلان خبر ميدهد ، جلسه متذكره كه به اشتراك محترم ملا عبدالجبار عمري والي ولايت بغلان، مسؤولين نظامي وقوماندانان آنولايت داير گرديده بود بعداز آنكه آيات چند از كلام الله مجيد قرائت گرديد محترم والي ص ٤

په چيچنيا باندي د روسي تيري كونكو ځواكونو بريدونه دوام لري

روسي پوځونو په يوه كلي كي څلويښت كسه كليوال وژلي دي

پداسي حالي كي چي پرون د چيچن د پايتخت گروژني په جنوبي برخه كي د روسيي د پوځي تيري كوونكو ځواكونو د توپچي او هوايي پوځونو وحشيانه بريدونو دوام درلود د روسيي د دفاع وزارت خبر ځايونو ادعا وكړه چي د روسيي برغلگر پوځ د گروژني ښار ته نژدي يو ملكي هوايي ډ گر ونيوه .

د نړيوالو خبري منابعو د خبر له مخي د روسيي ددفاع وزارت يو ويندوي نن هغه ريوټونه رد كړل چي د هغو په ترڅ كي ادعا شوي وه چي روسي پوځونو گروژني ته نژدي د ملكي خلكو په يو مخيزي وژني ٤ مخ

په تخار كي د مخالفينو د ټوپكيانو ترمينځ نښتي زياتي شوي

د قوماندان نجم الدين له وژل كيدو وروسته د مخالفينو تر مينځ تاوتريخوالي ورځ په ورځ په زياتيدو دي.

خبري منابع څرگندوي چي د نظار د ډلگي او د قوماندان نجم الدين ډلوډلو ترمينځ پرون د تخار په مربوطاتو كي سختي نښتي وشوي چي د هغي له امله د دواړو خواو ډيرلس تنه ٤ مخ

د المان د دفاع وزير په :

په نژدي راتلونكي كي د اروپايي ټولني غړيتوب تر لاسه كړي

د المان ددفاع وزير رودول شارپينگ پرون وويل چي تركيه به و نه كړاي شي په نژدي راتلونكي كي د اروپايي ټولني ٤ مخ



دلوي خداي (ج) په نامه

سرمقاله

استاد رباني و تلاش ائتلاف جديد ؟!

به قول رسانه هاي خبري جهان استاد رباني يكتن از چهره هاي پيشتاز جبهه به اصطلاح متحد شمال شرق افغانستان مصروف ديدار از جمهوري اسلامي ايران است و گفته ميشود كه موصوف به ديدار از آنكشور دعوت گرديده بود.

بنا بر گزارشات نشر يافته در بعضي از روزنامه هاي منطقه با ورود استاد رباني به تهران دو تن از بقاياي لجوج و قاتل خلق پرچم بنام هاي دوستم و مالك يكي از تركيه و ديگر از ايالات متحده امريكا نيز به تهران فرستاده شده اند تا همراه با استاد و رفيق قبلي شان بر يك طرح جديد غرض تداوم دسايس دشمنان اسلام زير دست گرفتن پلان هاي شوم خيانت به وحدت ملي و تماميت ارضي افغانستان به توافق رسيده و بعداً به افغانستان اعزام گردند، حتي يكي از روز نامه منتشره پشاور اين ص ۲

د وزير محمد اكبر خان روغتون د اورتوپيدي او ترماتولوژي په برخو كي په هيواد كي يوائني تحقيقاتي مركز دي.

په نوموري روغتون كي هره ورځ ۳۵۰ تنه ناروغان تداوي كيږي

د وزير محمد اكبر خان روغتون محترم رئيس

گرانو لوستونكو ازموږ خبريال دا ځل د وزير محمد اكبر خان له روغتون څخه كتنه كړي او د هغه روغتون له رئيس محترم ملا اختيار محمد محمدي سره يي د دوي د فعاليتونو په هكله خبري كړي چي ريوټ يي تاسي ته وړاندي كوو .

د وزير محمد اكبر خان روغتون ته د ورځي په تاريته او بڼځينه برخو كي له ۳۰۰ تر ۳۵۰ تنه مريضانو د معاينې او تداوي لپاره مراجعه كوي هغه مريضان چي عاجل تداوي او بستر ته ضرورت لري عاجلاً بستر كيږي نورو عادي مريضانو ته ٤ مخ

په عراق باندي د بنديزونو د لگيدو له امله :

يوولس زره تنه ناروغان مړه شوي دي

په عراق باندي د بنديزونو له لگيدو وروسته ددرملو د نشتوالي له امله كابو يوولس زره تنه ناروغان مړه شوي دي.

د مړو شويو كسانو په ډله كي ٤ مخ

په سريلانكا كي د جمهوري رياست لپاره ټاكني پيل شوي

د سريلانكا خلك پرون د رايو وركولو صندوقونو ته لاړل چي دغه هيواد ته نوي جمهور رئيس وټاكي.

خبري منابعو خبر وركړي چي انتخابات يوازي دوه ورځي له هغه وروسته پيل كيږي چي ددغه هيواد په اوسني جمهوري رئيسي ميرمن چاندرا كوماراتونگا باندي په يوه غونډه كي د يوه انتحاري بم ٤ مخ

اطلاعيه وزارت تحصيلات عالي و مسلكي

قرار است امتحان متفرقه، فارغ التحصيلان صنوف دوازدهم رشته هاي ديني، عصري ، مسلكي و مدارس افغاني خارج مرز جهت شمول در پوهنتون ها و مؤسسات تحصيلات عالي بروز يك شنبه مورخ بيست و پنجم ماه مبارك- رمضان در حوزه هاي پوهنتون كابل و پوهنتون ننگرهار اخذ گردد.

فارغان واجد شرايط از طريق وزارت معارف معرفي نامه خويش را ص ٤

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش

: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې

مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»

دیوي گڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغاني په پاکستان کي (۳) کلداري

پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱

جاري حساب : $\frac{٤-٣٨٥}{٧}$ د افغانستان بانك مركز

چاپ : امارتي مطبعه

بقیه سرمقاله

مطلب را نیز فاش ساخته است که چندین کانتینر مملو از سلاح و مهمات در یکي از میدان هاي هوایي جا به جا گردیده تا یکجا همراه با استاد و دو رفیق حزبی اش به مناطق تحت سیطره ملیشه ها منتقل گردد ، شاید مطلب اخیر کاملاً صحت نداشته و تلاش بعضي حلقات غرض دگرگوني روابط دوستانه بین مقامات جمهوري اسلامي ایران و امارت اسلامي افغانستان باشد حقیقت هرچه باشد شاید دیر یا زود بر ملا گردد اما این مطلب که استاد رباني با ادعا هاي استادانه هنوز هم طفلانه و غیر مسؤولانه قدم بر میدارد خیلي مایه شگرف است اینکه دوستم و مالك قاتلین هزاران تن از افغانان بیگناه و بقایای مخلص باند هاي وطنفروش خلق پرچم انداز کسی پوشیده نیست و استاد نیز کاملاً از آن آگهي دارد و با همه رسوایي آنها را یکبار دیگر پذیرفته است و یا هم به گمان اغلب استاد و جوهات مشترکي با این دو سر گروه ملیشه ها دارد که به امید دیدار و کسب رضایت آنها به تهران سر زده است . در حالیکه موصوف سفر خود را دعوت مقامات عالي دولت جمهوري اسلامي قلمداد نموده است !! همچنان ممکن رباني با بعضی از افراد دیگر مقیم ایران نیز دیدار نموده و التماس و التجاء آنها را به حمایت از جنایات خویش فرا خوانده باشد ، اما همه اینها تجاربي است که استاد چندین بار آنرا آزموده و هر بار به رسوایي وي انجامیده است اکنون نیز خواهیم دید که از این نیت بد چه محصولي بدست مي آورد . اگرچه به همه ملت مجاهد افغان و جهانیان هویداست که دوستم و مالك از جمله سفاکترین افراد قرن اخیر بوده و مسلمانان افغانستان هیچگاهي اوشان را نخواهند بخشید و آنها دیگر جاي پایي نیز در کشور ندارند اینکه استاد چگونه بار دیگر آستانه آنها را ناجي خود پنداشته و به آنها پناه برده است معلوم است که یا استاد دیگر همه چیز خود را از معنویات گرفته تا مادیات از دست داده و اکنون فقط به عنوان آخرین چاره همین راه را برگزیده است و یا شاید هم استاد و آن دو مجرم فراري مجبور گردیده باشند تا یکبار دیگر با هم یکجا گردیده بخت آزمایي نمایند ؟!

هرچه باشد آزموده را آزمودن خطاست هم شخصیت و اهلیت آن عاشقان ائتلاف هاي جدید ، هم عملکرد ها و سوابق و هم نیروي نظامي و توانمندي حربي آنها همه بر همه مشهود است نه ملت آنها را مي پذیرد و نه خود شان به زور قوت ، خود را بالاي ملت تحمیل نموده میتوانند ، همه تلاش هاي شان یك خیال است و محال است و جنون.

نکته اي که بالاي آن پا فشاري باید نمود گیله برادرانه ملت مجاهد و مظلوم افغانستان از جمهوري اسلامي ایران است و آن اینکه چگونه روا خواهد بود تا فردي را به سویه به اصطلاح رئیس دولت دعوت رسمي داده و باز برایش زمینه زدو بند هاي خاینانه علیه یك ملت مسلمان و همسایه را مساعد ساخت همچنان اشخاص مجهول الهویه ، قاتل و مفسد دیگري را نیز از کشور هاي دیگر به خاك خود اجازه داده و در راه طرح دسایس علیه ملت برادر و همسایه خویش براي آنها زمینه سازي و با آنها همکاري نمود.

ما ملت مسلمان ایران را همسایه ، هم آئین و برادر خویش پنداشته و از جانب اوشان همیشه همدردي خیر اندیشي و روابط حسنه را تقاضا مینماییم و تقاضاي احکام دین مقدس اسلام ، همسایگي برادرانه و وجوهات مشترك عقیدوي و فرهنگي نیز چنین ایجاب مینماید که شاید حکام دور اندیش جمهوري اسلامي ایران به آن ارج گذاشته و مورد توجه عمیق خویش داشته باشند. تاریخ ثابت ساخته است که روابط با اشخاص و افراد موقتي بوده و نمیتوان بر اساس آن روابط خویش را با یك ملت پي ریزي نمود در شرایط کنوني که ملت مجاهد افغان به جرم دفاع از اسلام و تطبیق احکام شریعت مورد فشار هاي شدید دشمنان اسلام قرار دارد لازم است تا حکام جمهوري اسلامي ایران با پیروي از احکام سعادت آفرین دین مقدس اسلام مسؤولیت هاي عقیدوي شان را تشخیص داده و نگذارند تا وسیله تطبیق طرح هاي ضد اسلامي دشمنان بین المللي اسلام گردیده و کفر جهاني با استفاده از پالیسي هاي کوتاه نظرانه آنها دسایس ضد اسلامي شان را در منطقه جامه عمل بپوشانند و اگر خدا ناخواسته چنین شد آنگاه نه تنها افغانستان بلکه تمامي جامعه اسلامي از صدمات طرح هاي دشمنانه کفر جهاني مصؤن نخواهند ماند ، و اگر حکام جمهوري اسلامي ایران به این عقیده باشند که در رابطه به مصروفیات فعلي رباني ، دوستم و مالك دست وطرح حلقه هاي کفري مؤثر نیست پس چگونه شد تا در عین وقت دوستم از ترکیه و مالك از امریکا به تهران رسیده و با استاد رباني هم کلام گردیدند !!!

ازمینبت

ډاکتر محمد حسن شرق پخپلو خاطرو کی کاږی : کله چی مرحوم محمد داود خان ته مو د کودتا د چارو د بشپړیدو او وروستی ئیتی په اړه خبر ورکړ هغه پر دغه مهال د کودتا له عملیاتو کورټ انکار وکړ ، دده د انکار لامل دا و چی پاچا په کابل کی نشته او دا یو دول نا څوانی ده چی دده په غیاب کی کودتا وکړو نه دا ده چی پاچا په هیواد کی وی او موږ پر کودتا لاس پوری کړو د محمد داود خبری جدی وی خو ما «شرق» ورته وویل : ملګری چمتو دی ، وخت تاکل شوی ، دا ناشونی ده چی موږ ټولو ملګرو ته د عملیاتو د ځنډیدو پر وخت خبر ورکړی شو . نسابی دا کار له یوی مخی زموږ پلان او پروګرام له ګډوډی او ماتی سره مخامخ کړی پدی توګه به په ځینو قطعاتو کی د پروخت او ځای خبر نه رسیدو له امله ملګری عملیات پیل کړی او ښکاره خبره ده چی پداسی حالاتو کی موږ بیا هیڅوک هم له ناکامی نشی ژغورلی ، که تاسی یی لازمه نه ګڼئ شایی ملګری په خپل سر اقدام ته مخه کړی ...

دا چی لوړه خبره په څومره سمه وی خو د خدای بښلی محمد داود خان د مزاج ، شخصیت او کرکتر د مطالعی له اړخه د سړی په زړه کی ځای نیسی او له یوی مخی بی ناسمه نشی ګڼلای.

د جهاد په وختونو کی د یو قوماندان یوه خاطره را یاده شوه له ده سره د دښمن یو

ورسره کوو او تاسی بیا زموږ وال وهی ټکوی په راډیو او تلویزیون کی یی د ځان د ګټی خبرو ته اړ کوی ، او شرمول موږ اخیستی دی.

زما مطلب پر بندی د پوهیدو او په دی اړه د لاری او نرخ خبره ده ،

پر افغانستان چی امریکی د کروز توغندیو برید وکړ نباغلی ربانی ، مسعود او مخالفانو هر یو حولی کړی کړی نه یواځی کړی بلکی ددغه برید ننګه او ملاتړ یی وکړ ، پداسی حال کی چی دغه برید پر هغه هیواد وچی دوی یی د مشری ادعا لری ، تر دی چی له امریکی نه دوی زیات تیری شوی ، پداسی حال کی چی خپله امریکی په دی اړه د خپلی پری احساس نشوای پټولای خو په ملګرو ملتونو کی د ښاغلی ربانی استازی ډاکتر عبدالغفور روان فرهادی بیه په بریر دغه بندیزونه موجه او پر ځای وبلل او هغه یی خپله فتحه اعلان کړه .

په دی تول پوهیری چی د بندیزونو ناوره اغیز پر چارواکو نه بلکی پر خلکو او ملت لویږی خو ددی په مقابل کی اسلامی امارت ملګرو ملتونو ته اجازه ورکړه چی د مخالفینو تر کنټرول لاندی سیمو ته د خوراکی موادو کاروانونه ولیږدوی دا په داسی حال کی چی خپله په کابل او د هیواد په نورو سیمو کی د بیو دلوړیدو او بندیزونو له امله د خوراکی موادو کاختی را منځ ته شوی ده .

ببین تفاوت ره از کجا تا به کجا است

همدا ملت او وطن ته د خدمت او له خلکو سره د خواخوږی د ازمینښت مهال دی ، وخت او **حالاتو وښوده چی چاته ملت او ولس قدر لری ، څوک پخپلو خلکو خوږ دی او څوک یی د خپل جنګی ماشین د چلولو لپاره له وینو او هډوکو ګټه اخلی.**

پټی پاڼی

شهرت ننګیال

په خبره یو دلوری چی ځان یی د ګروال معرفی کاوه به مخابره کی په بحث کیووت :

قوماندان ورته وویل : ګوری تاسی پر بدی هم نه پوهیږی ، بدی هم یو لاره او نرخ لری ، موږ چی ستاسی څوک وئیسو نه چلند

دا غه برید د توجیه کولو لپاره لیوالها او ستړی وو

دا سمه ده چی دوی له طالبانو سره بدی او دښمنی لری خو دلته د هیواد او ملت سوال و پر وطن او خلکو د وسله وال تیری خبره ده دا اوس اوس چی ملګرو ملتونو په افغانستان اقتصادی بندیزونه اعلان کړل یو ځل بیا د مخالفینو لاری

کـــرونولوژی

د افغانستان د سیاسی او ټولنیزی ګډوډی علتونه

له ۱۳۳۲ نه تر ۱۳۷٤ هـ ش پوری

صلاح الدین «ابراهیم خیل»

(۷)

د ربانی – مسعود له پلمو دکی « امریکا نواز ، افغان مشری سازی پروژی » لکه څنګه بی چی پخوا په « ژنیو ، له ظاهر شاه سره د فرانس لوموند اخبار د نماینده په مرکه کی » اتکل شوی و ، ملک په داسی سور اور کیناو ، چی د کابل ښار په دننه او « ٦ کروهی » په څلور خواوو کی چاته د مال او سامان بوه جنډه باد ودانی یوه لوته هم پاتی نه شوه . د افغان مجاهد اسلامی پری – په افغانستان کی اسلامی نظام ټینګښت دوکه شوی لا څه چی ان د کابل او ټول افغانستان پخوانی مشته کورنی هم « تشی توری » د ځان د آمان په هیله له هیواد نه خپل سر وته وایستل او مهاجری شوی.

د تنظیمی قدرت غوښتنی جګړو د اور لمبو ، د هغوی بی تفاوتی بیرحمی او په ملک کی د کور پکور دښمنیو ، خوا بدیو اجول ولس پوزی ته راوست ، د روسانو ستر کفری او الحادی طاقت په وړاندی د دوی هغه فولادی روحیه دومره کمزوری شوی وه چی د تیرو الحادی نیاشانو د ظلم غم دردیی تری هیر کړی و هغو رښتینو مومنو مجاهدینو چی د خپلو وچو هډوکو په همت یی روسی لوی قدرت ته ماتی ورکړه او په افغانستان کی د الهی قانون د رڼا او محمدی شریعت تر انفاذ لاندی د یو بشپړ اسلامی نظام د ټینګیدو هیله من وو ، د یو نیم ملیون شهیدانو په پاکو هیلو دغه شان تنظیمی پښو اېښودو او سترګو پټولو سخت خوابدی او د دوی له غم لړلو لیکو وتل او د الله په هیله کور کیناستل په سرو سترګو یی د لوبی غوښتونکو د زور ازمویني د بارو ټو زړه دردونکی اور ، لوګی ته کښتل لاس تر زنی ناست و .

په داسی لحظاتو کی چی هره ګوری د هیواد د جهادی ارزښتو او بریاوو د انفجار ګمان قوی کیده ، په الهی نصرت هیواد ته د طالبانو د اسلامی تحریک د لمر وړانګو په

وارسیدو ، هغه طالبان چی د افغان جهاد یال هیواد یوه ، ډک ، ناخپه ، تکړه پخسار دی ، خو د [illegible] ملک په ښکلی فضا کی [illegible] پالنل بی وړزلی ، کلکه او [illegible] پلی د جهاد په فلسفه او [illegible] یی د قرآن مجید او [illegible] حدیثو له لاری پوره پوه کړی ، د دین د عزت ، حرمت ، وطن ساتنی ، پالنی له ناموس سره د مینی او محبت اصالت یی له خپلو مشرانو او د لاس نیاکو [illegible] سره د دی د زړګو په [illegible]

هر [illegible] د [illegible] شهادت او [illegible] چی په موږ نی هیواد کی د [illegible] د وږو مرګ ژوبله ، د کور کلی خفګان ، غصه او نا [illegible] ، د بچو لوږه د [illegible] ویجاړتیا وشړ [illegible] ، کتاب او سبق بی پریښود . د شر فساد ښتا دوایستلو لپاره یی د توره - وال ، ته لاس کی وروان شول.

له [illegible] کلی خواتانو ، سپین [illegible] ، صمیمی چلند ، [illegible] منطقی خبری د [illegible] د اسلامی وروړولی په وړاندیز ، د هیواد د خلکو د خواشینیو ټپنو ملهم او ماتو زړونو ګو تمبر شول ، د ملک پوره دیښی ملسمی او په څه پوره

خلسیانو دورونو په دود او سپین روبو ، مخه ورو د بچیانو په څیر د هغوی ئود هر کلی او ملاتړ وکړ ، هغوی یی **هیواد** والو ته د جهاد نعم البدل او په دغه لارکی د یو نیم ملیون شهیدانو ، مینده پلرو ، کور کهول ته الهی موهبه وګڼل ، د جهاد له بری وروسته کور ناست رښتینی مجاهدین او له تنظیمی بیځایه قدرت غوښتنی اوږدی جګړی څخه ناراضه مومنو وطنپالو عناصرو هم چه له خپلو اسلامی او جهادی اهدافو سره برابر وليدل ، لکه ولاړ اوبه چی د نویو اوبو د بهیر په رارسیدو په خوړیدو شی زر زر متحرک او هر ځای دلی دلی له دغه اسلامی بهیر سره یو ځای او یو موټی شول ، ستر څواک یی جوړ کړ .

په ۱۳۷٤ کال هیواد کی د دوو زرو نه زیات علما روحانیونو تکړه او یا تورو مجاهدینو په ګډون یوی ستری تاریخی ، دینی ، اسلامی شوری غونډه وکړه ، او په هغه کی بی پلروسانو او الحاد د بری په ویاړ او **په دغه لاره کی د ارواښادو شهیدانو د یاد تازه ساتلو په خاطر د هیواد لارښود مشرتابه په نوم اسلامی امارت او په سر کی یی د جهادی یاد وړ خدمتو په وجه ملا محمد عمر مجاهد د امیر په توګه تصویب ، هیوادوالو او نړی ته یی اعلام کړ .**

د طالبانو اسلامی ځواک د اسلامی امارت په مشرتابه د هیواد ګوټ ، ګوټ ، پره د فتنی او افت ځالی ورانی ، تنظیمی تیښتی ، خوری وری ، پټی ، ښکاره وسلی راټولی د طالبانو مرکز ته وسپارلی ، او په ملک کی یی د الهی حکمونو سره سم د محمدی غرا شریعت په انفاذ بشپړ اسلامی نظام ټینګ او سراسری امنیت تامین کړ.

خو کفری نړی په سر کی امریکا ، روس ، د ملګرو ملتو سازمان خپل شوم هدف ته د رسیدو لامله له افغان مجاهد هیواد او په هغه کی د بشپړ اسلامی نظام له مخالفت نه لاس وانخیست او په رسمیت یی ونه پیژاند او لا تر اوسه یی په ډېره سپین سترګی د ربانی د بی ولس ، بی سیاسی قلمرو او بی بنیاده موبایلی تش په نامه دولت نماینده د ملګرو ملتو په سازمان کی ساتلی او په رسمیت یی پیژنی لا د ۱۹۹۹ = ۱۳۷۸ د نوامبر ۱٤ مه یی امریکا ته په تانزانیا کی د امریکی په سفارت کی د چاودنی په تور د اسامه بن لادن عرب مجاهد ، افغان میلمه نه سپارلو په پلمه په افغان مسلمان هیواد اقتصادی بندیز هم ولګاوه دا هر **څه او هره سختی د کفری نړی له خوا په افغان ولس بوازی او بوازی دلته د بشپړ اسلامی نظام ټینګولو پخاطر کیږی . پداسی حال کی چی د افغان مسلمان ولس اسلامی امارت په هیڅ** دول کـه څه هم د خلکو او خاوری په تمامیت تمام شی له اسلامی حدود ونشی تیریدی.

والله خیر حافظا

پای

د لوړو زده کړو وزیر محترم مولوی حمد الله نعمانی د شریعت اوونیزی له خبریال سره په مرکه کې:

څه د پاسه دیرش زره محصلین د لوړو زده کړو په موسسو کې په زده کړه بوخت دي

په راتلونکې کې به د کمپیوټري زده کړو یو مرکز هم تاسیس او په دې برخه کې به محصلین وروزو

مونږ به هڅه وکړو تر څو خپل پخواني مجرب او تکړه استادان هیـــــــواد ته راوبولو او په کـــــار یې وگـــمارو

شریعت : قدرمنو لوستونکو! زمونږ خبریال په هیواد کی د لوړو زده کړو د موسسو د څرنگوالی، اوسنی حالت او راتلونکو پلانونو په اړه د لوړو زده کـــړو له وزیر محترم مولوی حمد الله «نعمانی» سره د مرکی په ترغ کی ددغه وزارت د کړو وړو په هکله یو رپوټ برابر کړی چې ستاسی د مطالعی لپاره یې خپروو .

محترم نعمانی په پیل کی داسی ووېل : د افغانستان مرکز د کابل ښار او څلور نورو لویو علمی او فرهنگی مرکزونو کی چې د هرات، ننگرهار، بلخ او کندهار په ولایتونو کی موقعیت لری زمونږ څه دپاسه دیرش زره تنه محصلین په زده کړه بوخت دی. پرازی تیر کال د لوړو زده کړو موسسو ته په مرکز او ولایاتو کی د کانکور ازموینی وروسته ۶۰۰۰ تنه زده کوونکی جذب شول. دی زیاتوی : د هیواد په کچه هغه محصلین چې د لوړو زده کړو په موسسو کی خپلی زده کړی په بریالیتوب سره پای ته ورسوی نو د خپلو اړوندو موسسو له خوا د کار او بشری قواوو لوی ریاست ته په رسمی ډول وربیژندل کیږی تر څو چې له دغی لاری دوی د مسلک او تخصص په پام کی درلودلو سره په بیلا بیلو امارتی ادارو کی په کارو گومارل شی. همدارنگه د طبی زده کړو د موسسو دستاژ د دوری محصلین له خپل مسلک سره د ښی بلدتیا او عملی چارو لپاره د عامی روغتیا وزارت اړوند بیلابیلو روغتونونو ته لیږل کیږی . او د انجنیری زده کړو د موسسو زده کوونکی د پرکټیک لپاره هغو ادارو ته ور معرفی کوو چې دوی په راتلونکی کی دغو ځوانو انجنیرانو ته اړتیا وینی او یا هم خپلی پرکټیکی زده کړی د پوهنتون د تطبیقاتو په مرکز کی تر سره کوی.

نوموړی زیاته کړه : په اوس وخت کی زمونږ په وړاندی ډیر ستر مسوولیت پروت دی او په همدی خاطر مونږ یو لړ پلانونه لرو چې انشا الله د هغو په پلی کولو سره به د نړی له پر مختللو پوهنتونونو سره اړیکی تامین او خپل تحصیلی پروگرامونه به له هغوی سره هماهنگ کړو څرنگه چې اوس د کمپیوټر عصر دی او د کمپیوټر اهمیت د ژوند په بیلا بیلو اړخونو کی زیات محسوس کیږی نو په همدی خاطر غواړو چې د کمپیوټری زده کړو یو مرکز تاسیس او په دې برخه کی زده کوونکی وروزو، او په دې توگه غواړو چې د نړی له پوهنتونونو سره د هماهنگی لاری را لنډی کړو مونږ د خپل زاړه کریکولم د نوی کولو لپاره له یونسکو او WHO سره اړیکی لرو. WHO مرستی ته لیواله ده په راتلونکی کال کی به انشا الله له مونږ سره یو گډ سیمینار هم ولری. او مونږ به ددغه سیمینار په ترغ کی نوموړی موسسی ته را څرگنده کړو چې دخپلو تحصیلی موسسو د بیا رغونی او د یوه نوی کریکولم د رامنځته کولو په لاره کی څومره ستونزی لرو. هیله لرو چې د هغوی پاملرنه به ددغی ستری نیمگړتیا د لری کولو لپاره را جلب او زیاتره مرستو ته به یې وهڅوو. که څه هم چې د کمپیوټری زده کړو یو څه امکانات په انفرادی ډول همدا اوس اوس په ځینو تحصیلی موسسو کی برابر شوی خو مونږ هڅه کوو چې په راتلونکی کی دغو فعالیتونو ته پراختیا او د یوه

> په اوس وخت کی زمونږ په وړاندی ډیر ستر مسوولیت پروت دی او په همدی خاطر مونږ یو لړ پلانونه لرو چې انشا الله د هغو په پلی کولو سره به د نړی له پر مختللو پوهنتونونو سره اړیکی تامین او خپل تحصیلی پروگرامونه به له هغوی سره هماهنگ کړو څرنگه چې اوس د کمپیوټر عصر دی او د کمپیوټر اهمیت د ژوند په بیلا بیلو اړخونو کی زیات محسوس کیږی نو په همدی خاطر غواړو چې د کمپیوټری زده کړو یو مرکز تاسیس او په دی برخه کی زده کوونکی وروزو،

علمی مرکز په بڼه وده ورکړو. هغه لوی پرابلم چې نن ورځ مونږ ورسره مخامخ یو په هیواد کی د لوړ رتبه مجربو علمی کدرونو نشتوالی دی هڅی روانی دی تر څو د ځینو توامیتونو په نظر کی درلودلو سره هغه استادان چې له هیواد نه د باندی ژوند کوی بیرته راستانه کړو البته د ځوانو علمی کدرونو په برخه کی اوس څه ستونزی نه لرو او مونږ هلی ځلی کوو تر څو له هیواد نه بهر خپل مجرب او تکړه استادان بیا خپل هیواد اومومنو هیوادوالو ته خدمت کولو ته اماده کړو او هغوی د ځینو اقلیتونو او توأمیتونو په وسیله هیـــواد ته راوبولو او له علمی پانگی نه یې گټه واخلو. البته د علمی کدرونو،د امتیازاتو په اړه مو لازم گامرته اوچت کړی چې په دې توگه د دوی امارتي معاش او کدری امتیازات له شلو نه تر دوه ویشت لکو افغانیو پوری لوړ شوی دی. البته د یو شمیر موسسو مرستی هم په دې برخه کی د یادونی وړ دی چې وخت ناوخت یې له مونږ سره کړی دی او مونږ به د هغوی زیاتره پاملرنه د ځان خـــوا ته راوگرځوو تر څو زمونږ د استادانو ټولی ستـــونزی لری اودی ته اړ نه شی چې له تحقـــیق ، مطالعی، تعلیم او ریسرچ نه پرته بل کـار وکړی. دی زیاتوی : مونږ د خپلو پروگرامونو په پر مخ بیولو کی له زیاتو ستونزو سره لاس گریوان یو. له دی ډلی نه یوه هم کابل پوهنتون کـی د لابراتــوار او لابراتــواری تجهیزاتو او سامان الاتو نشتوالی دی ځکه چې دغه پوهنتون د تیرو خپل منځی نښتو په مهال د جگړی ډگر او له دې امله زیات زیانونه او تاوانونه ور اوښتی دی او هرڅه یی چور تالا شـوی دی. په کندهار کی هم څه نا څه ستونزی شته خو په هرات، ننگرهار او بلخ کی دغـــه ستونزی لږ تر لږ ستر گو کیږی .

دی زیاتوی : تیـر کـال مـو د لومـالیندا له پوهنتـون سـره یو توأمیت لاسلیک او له WHO سره مو هم اړیکی ټینگی کړی تر څو د طبی علمی موسسو د بیا رغونی په چارو کی مرستی وکړی. WHO مرستـی د تیـر کـال په ترغ کی د یادونی وړ او په لاندی ډول دی : اته پایی مـیکروسکوپونه، یوه پایه د پروجکتـور مــاشنی، یوه پایه د گــســتدنر (چاپ) مـاشــین، د پروجکتـور پردې او سلایدونه او طبی درسی او څیړنیز کتابونه. دغه راز د لومـالیندا پوهنتـون د هغـه توأیت له مـخی چې تیـر کـال یې کابل پوهنتون سره لاسلیک کړ د هغـه له مـخی یې د کـابل د طب له انستیتوت سره دغه مرستی کړی دی : یوه پایه «لپ تاپ» مـدرن کمپیوټر، یوه پایه کمپیوټری ویډیو پروجکټور، د پتالوژی د لابراتوار لپاره یوه پایه میکروتوم ماشـین چې د لومړی ځل لپاره زمونږ هیواد ته راوړل شو یوه پایه مکتر کـمپیوټر، یوه پایه پرنتر رنگه کــمپـیـوتر، یوه پایه پروجکتـــــور، څلور د بریښنا ترانــســفــارمـرونه، دوه پایی د لابراتوار ځانگړی برقی ماشینونه، یو برقی میکروسکوپ او په زیاته اندازه درسی څیړنیز کتابونه او د میکرتوم او پروجکتور تخنیکی سامان الات. د یادونی وړ ده چې په هالند کی یوی خیریه موسسی چې زیاتره کارکوونکی یې افغانان دی او مشری یې د ډاکتر عبدالولی وردگ په غاړه ده له مونږ سـره زیاتی مرستی کړی دی چې د هغوی د مرستو دوه پایی کمپیوټرونه څو ورځی مـــخکی مـــونږ ته را ورسیدل.

ده زیاته کړه: افغانستان پخوا د نړی له گڼ شمیر هیوادو سره په فرهنگی او تحصیلی ځانگو کی یو لړ توأمیتونه درلودل، خو په هیواد کی تیر شل کلن ناورین زمونږ هر څه له خاورو سره خاری او د اړیکو ټول مزی یې سره وشلول. خو لله الحـمـد په هیـواد کی د اسلامی امارت تر واکمن کیدو [illegible] مو بیا هڅی پیل کړی تر څو [illegible] توأمیتونه بو ځل بیا را ژوندی او اړیکی بیـا له سره ټینگی کـړی شی، تر څو له هغو ستونزو سره چی همدا اوس مخامخ یو ځان وژغورو. د امریکی د کلفورنیا په ایالت کی د لومالیندا له پوهنتون سره مو یو توأمیت لاسلیک کړ چې په نتیـجه کی یې سږ کـال د پتالوژی په ځانگه کی د نوموړی پوهنتون یوه ډله استادان کابل ته راغلل او د پتالوژی په ځانگه کی یې ٤٢ ورځی محــصلینو ته لکچرونه ورکړل همدارنگه زمونږ د علمی او تحـصیلی موسـسو څرنگوالی یې له نږدی نه وڅیړه البته دغه ډله به په راتلونکی مارچ کی یو ځل بیا هم کابل ته راشی.

دغه راز مونږ د پاکستان د پنجاب د ایالت مرکز د لاهور ښار د کینگ ادوارد له طبی انستیتوت سره هم یو توأمیت لاسلیک کړی چې د هغه له مخی د PCB د لابراتوار ، بیوشیمی، پتالوژی، هستالوژی او نورو لابراتوارونو په برخه کی د یادونی وړ مرستی کړی او محصلینو ته یې د تحصیلی بورسونو (سکالرشپ) زمینی برابری کـړی دی کـــه څه هم چې لگښتونه یې د اسلامی بانک له خوا چې په جده کی دی تمویلیږی . خو د کینگ ادوارد پوهنتون زمونږ د تحصیلی موسسو په سلو کـی لــه ٤١ نــه تــر ٤٥ پسوری لگښتونه په خپله غاړه اخستی .

دی زیاتوی : پر مختیایی بانک چې یوه اقتصادی پروژه ده او فرهنگی چاری هم سرته رسوی . کابوشل سکالرشپونه یې مونږ ته رالیږلی چې مونږ له وخت نه په استفادی سره خپل یو شمیر محصلین لیږلی او یوه ډله نور ځانونه اماده کوی چې ولاړ شی .

همدارنگه د FAO موسسی د اقتـصـاد په ځانگه کی د لنډ مهالو کورسونو لپاره یو شمیر بورسونه (فلوشیپونه) مونږ ته رالیږلی چې له هغو نه په گټه اخیستو سره مو یوه ډله محصلین وروليږل چی د سیمینار او کنفرانس له ورکولو وروسته هیواد ته راستانه شول او په خپلو کاروبو یې پیل وکړ .

د مصر د الظهر پوهنتون هم د یو شمیر بورسونو مرسته کړی خو تر اوسه پوری مو ددغه پوهنتون د بورسونو په برخه کی هیڅ گام نه دی اخیستی ښایی په راتلونکی کی یوه ډله ښوونکی یا محصلین د ټولنیزو او مذهبی علومو د زده کړی لپاره نوموړی هیواد ته واستوو.

نوموړی زیاتوی : څرنگه چې تیرو خپل منځی نښتو او جگړې بهیر کی د کابل پوهنتون د دې ډلو د جگړیــزو عـملیـاتو ډگر گرځیده او زښته زیات زیانونه واوښتل او ټوله شتمنی ، سامان آلات او لابراتوارونه یې چور او لوټ کړی شول خو مونږ لله الحمد وتوانیدو چې له پرمختیایی بودجی نه په کار اخیستو سره ۳۲ امارتی او خصوصی ساختمانی پروژی د بیـــا رغـــونی چارو ته وگــومــارو چې ځینو یی خـپل پروگرامونه پای ته رسولی او یو شمیر نوریې اوس هم په کار بوخت دی. البته کوم قراردادونه چې له دغو ساختمانی پروژو سره لاسلیک شوی دی ټول له یونیت کاست سره سم دی او په سلو کی له ۱۵ نه تر ۱۷ پوری تخفیف هم په پام کی نیول شوی دی.

د لوړو زده کـړو وزیر محترم مولوی حمد الله نعمانی په پای کی زیاته کـړه کـه څه هم چی د لوړو زده کـړو د وزارت لـه لوری د کتابو، مجلو او اخبارو چاپول یوه ضروری ، حتمی، حیاتی او اساسی اړتیا ده خو د تیرو جیږگ جگړو په ترغ کی زمونږ مطبعی په بشپړه توگه له منځه تللی چی له دی امله زمونږ نشراتی ځانگی تر اوسه پوری بیخی له کاره لویدلی او نشراتی چاری په ټپه ولاړی دی. مونږ له ډیر وهلو ټکلو وروسته لله الحمد وتوانیدو چی تیر کـال د مجموعة المقالات په نامه د کابل پوهنتـون مجله چاپ کـړو البته زمونږ د هڅو په دوام سږ کـال د کابل پوهنتون یوه علمی مجله د یوی خیریه موسسی په همکاری له چاپه راووتله مونږ ډیر کوشش کوو چی خپلی مطبعی له سره کـارته امـاده کـړو ځکه چی نشـراتی فعالیت او د علمی جریدو او کتابو خپرول زمونږ د فعالیتونو لویه برخه جوړوی.

د WHO له خـــوا سږ کال د یوی مطبــــعی مرسته وشوه چی د بریښنا د بهیر په تامیندو سره به په کار واچول شی البته له دی وروســـتــه د هرات ، بلخ او ننگرهار د پوهنتـونو مـجلی د پوهنی مـجله او د کـابل د طب انیستیتوت ، پیداگوژی او پولیتخنیک هغه تحقیقاتی کـتابونه چـــــی محصلین او استادان استفاده تری کولای شی هم ډیر ژر انشــــاء الله چاپ ته تیار شی.

محمد داود «عمرزوی»

محترم مولوي سيد محمد حقاني سفير كبير و ...

مقيم اسلام آباد اشتراك داشتند محترم سفير كبير و نماينده خاص امارت اسلامي افغانستان خطاب به آنان گفتند. به تمام دنيا معلوم است كه امارت اسلامي از ابتداء اين مسأله را به جهانيان واضح نموده كه امارت اسلامي افغانستان با تمام كشور هاي جهان روابط متقابل نيك و با كشور هاي اسلامي خواستار روابط برادري ميباشد و اين مسئله را واضح ساخته كه امارت اسلامي به هيچكس اجازه نميدهد كه خاك افغانستان را بر ضد كسي استعمال كند.

امارت اسلامي افغانستان خلاف تروريزم بوده و هميشه همكاري خويش را با كشور هاي جهان اعلام نموده است و تروريزم را تقبيح نموده و امارت اسلامي خود شكار تروريزم گرديده كه انفجارات كندهار، كابل مثالهاي روشن آن است.

اسامه بن لادن قبل از حضور طالبان و ايجاد امارت اسلامي در افغانستان زنده گي داشت. حال بقسم مهمان زنده گي مينمايد و ما برايش گفته ايم كه به قسم مهمان زنده گي نمايد و خلاف كسي فعاليت ننمايد.

حتي وسايل ارتباط ضروري مانند تيلفون و فكس و غيره نيز از نزدش گرفته شده و ما از عدم فعاليت موصوف مطمئن هستيم . ايالات متحده امريكا به عوض اينكه امارت اسلامي را برسميت بشناسد همرايش مذاكره نمايد خلاف قوانين بين المللي در افغانستان كروز و ميزايل استعمال نموده و مسلمانان بيگناه و مظلوم را به شهادت رسانيده و عمل تخريبي را انجام داد.

امارت اسلامي بنوبه خويش در مورد اسامه سياست معقول را پيش گرفته است . ستره محكمه امارت اسلامي افغانستان از امريكا خواست آنعده اسناد و شواهد مبني بر شركت اسامه در مورد تخريبكاري و انفجارات كه آنها ادعا نموده اند ارائه نمايند تا به اساس فيصله شرعي در افغانستان محاكمه شود و براي اين كار يك و نيم ماه وقت داده مگر نه امريكا و نه كسي ديگر كدام ثبوت - ارائه نكرد.

چندي قبل از جانب امريكا اعلان شد كه يك تعداد مردم در يكي از كشور هاي عربي دستگير شده كه با اسامه ارتباط دارد. متعاقباً گرفتاري اين افراد در اردن نشر شد ولي ماه از سفارت اردن مقيم اسلام آباد تقاضاي تفصيلات در مورد نموديم گفتند حكومت ما چنين نگفته كه آنها افراد اسامه و يا با اسامه ارتباط دارد تنها گفته شده كه اين افراد طي دوران جهاد افغانستان در جهاد سهم داشتند كه اين جرم نيست.

امريكائيان ـ بتاريخ ۱۹۹۹/۱۲/۱۳ در سفارت ما مقيم اسلام آباد همين قسم به نماينده ما در نيويارك يادداشتي نهٔ ماده يي تقديم نموده و امارت اسلامي افغانستان از كندهار بتاريخ ۱۹۹۹/۱۲/۲۰ به سفارت امريكا جواب موادات متذكره را به سفارت امريكا مقيم اسلام آباد سپرده كه عين موضوع را به شما هم ميدهيم.

از جانب محترم سفير كبير امارت اسلامي به سوالات عده يي از ژورنالستان و خبرنگاران جوابات مثبت و قناعت بخش داده شد.

د وزير محمد اكبر خان روغتون د اورتوپيدي او ...

لازمه نسخه وركول كيږي كومه دوا چې د روغتون په فارمسي كې موجوده وي ورته توزيع كيږي او روغتون فعال ۲۶۷ بستره په ناريته او ښځينه برخو كې لري چې د اورتوپيدي، جراحي، عمومي، داخلي عمومي، انستيزي، اكسريز، لابراتوار او د فارمسي په برخه كې ځانګې لري ده زياته كړه.

ناروغان د ډېرو تكړه او مجربو داكترانو له خوا معاينه او تداوي كيږي علاوه له دې نه د وزير محمد اكبر خان روغتون د اورتوپيدي او تروماتولوژي په برخو كې په ټول هيواد كې يواځنى تحقيقاتي مركز دى . چې د داكترانو د تخصص د اخستلو لپاره د ترينګ برخه هم لري او هغه محصلين چې د طب د پوهنځي له خوا د عملي كارونو لپاره معرفي كيږي د مجربو داكترانو له خوا ورته رهنمايي كيږي نوموړي زياته كړه د وزير اكبر خان روغتون د طبي سامان الاتو په برخه كې ټول هغه امكانات لري چې د ناروغانو د عملياتو په خاطر ورته ضرورت وي او هغه طبي سامان الات په انستيزي، اورتوپيدي او جراحي عمومي كې په كارېږي خو روغتون د التراساوند، اندوسكوپي او پتالوژي برخي چې په نني طب او طبابت كې ډېر ورته ضرورت دی او د مريضانو د ښه علاج لپاره ډېر مهم دي امكانات نلري.

نوموړي د روغتون سره د مرستو په هكله وويل : د وزير محمد اكبر خان روغتون له ۱۹۹۱ ميلادي كال نه را په دې خوا د نړيوال سره صليب له خوا په دوايي ، غذايي، لوژستيكي او مدد معاش په برخو كې كمك كيږي تول هغه ناروغان چې عمليات او عاجلې تداوي ته ضرورت لري له اكسري نه تر لابراتواري معايناتو او دوا پورې يې په مجاني توګه اجرا كيدلای شي.

په پای كې محترم ملا اختيار محمد د خيريه موسسو څخه داسې غوښتنه وكړه : له خيريه موسساتو څخه غواړو چې د افغانستان د بيا ودانولو په برخه كې بالخصوص د عامې روغتيا په برخه كې له **مظلوم ملت سره له هيڅ راز كمك او همكارۍ دريغ ونكړي او خپلې بشري او انسان دوستانه كمكونو ته دې دوام وركړي .**

محمد داود عمرزوي

طي جلسه اي امور ...

لايت بغلان طي صحبت شان در رابطه به وظايف و مكلفيتهاي قوماندانان روشني انداخت سپس چگونگي امور نظامي آنولايت مورد غور و ارزيابي قرار گرفته و جهت بهبود امور تصاميم لازم اتخاذ گرديد.

طبق يك خبر ديگر محترم والي ولايت بغلان از بخش هاي مختلف فابريكه قند بغلان كه اخيراً بعد از سپري شدن چندين سال دو باره احياء و به فعاليت توليدي آغاز نموده است بازديد بعمل آورده و جهت بهبود هرچه بهتر امور توليدي به مسؤولين مربوط مشوره هاي سودمند داد .

په تخار كي ...

وژل شوي او په لس ګونو تنه نور ټپيان شوي دي، خبر زياتوي دغه نښتي اوس هم رواني دي

په عراق باندې د ...

نږدې اوه زره تنه تنكي ماشومان هم شامل دي .

د عراق د رسمي سرچينو په وينا : په هيواد كي دغه شمير كسان د درملو د نشتوالي له امله مړه شوي دي او د نورو زيات شمير خلكو د مړينې اټكل هم شوي دي .

سرچينې زياته كړه چې دغه مړينې ، په عراق باندې د ملګرو ملتونو له خوا د لګول شويو بنديزونو له امله رامينځته شوي دي.

اطلاعيه وزارت ...

بوزارت تحصيلات عالي حاضر نمايند.

ثبت نام تا تاريخ بيست و دوهم رمضان المبارك در رياست امور محصلان وزارت تحصيلات عالي ادامه دارد.

همچنان فارغ التحصيلان سالهاي قبل و سال جاري كه در امتحان دور دوم اشتراك كرده نتوانسته اند هرچه زود تر با اسناد معرفي شان جهت ثبت نام مراجعه نمايند.

اطلاعيه وزارت معادن و صنايع

كار احياي مجدد و مونتاژ دو باب برج برق رياست پاركهاي صنعتي قبلاً اكمال و آماده بهره برداري ميباشد بنأمراتب آتي به اطلاع عموم مالكين فابريكات صنعتي شهر كابل رسانيده ميشود:

آنعده فابريكات كه آماده فعاليت باشند ميتوانند از انرژي برق مستفيد شوند.

آنعده فابريكات كه ماشين آلات خويش را از محل منتقل و فعلاً در ساحات مسكوني شهر كابل فعاليت مينمايند هرچه زود تر ماشين آلات خويش را دو باره به پارك هاي صنعتي انتقال داده اضافه از اين باعث تكليف همشهريان ما نشوند.

در غير آن هر اقداميكه از طرف وزارت آب و برق صورت گيرد آنگاه حق هيچگونه شكايت را نخواهند داشت.

په چيچنيا باندې د ...

لاس پورې كړېدي.

ګروزني ته نږدې د يوه كلي اوسيدونكو ويلي دي چې د روسي برغلګرو ځواكونو ددغه كلي له نيونې وروسته څه د پاسه څلويښت تنه په ظالمانه توګه له يوې مخې وژلي دي.

دوي وويل چې دغه يو مخيزه وژنه له هغه وروسته شويده چې دغه كلي د روسانو د ظالمانه بمباريو له امله په بشپړه توګه په كنډواله بدل شو .

د المان د دفاع وزير ...

غږيتوب تر لاسه كړ ي.

شارپينګ چې تركيې ته د خپل سفر په بهير كي خبري كولي څرګنده كړه چې تركيې په اقتصادي او دموكراسي برخو او د بشر حقوقو ته د درناوي په لاره كي يو لړ پرمختګونه كړي دي خو دغه په مختګونه د اروپايي معيارونو او ارزښتونو سطحي ته نه دي رسيدلي.

شارپينګ زياته كړه له دغي مسئلي سره سره المان له تركيې سره د نږدې اړيكو د لرلو غوښتنه كوي.

به تأسي از هدايت ...

بحيث مسؤول اداري و محترم مولوي عبدالغني بحيث مسؤول ارتباط تعيين گرديدند.

همچنان ۱۲ تن ديگر بحيث اعضاي شوراي مذكور تعيين گرديد.

شوراي علماء كرام ولسوالي باغران ولايت هلمند محترم مولوي-غلام فاروق آغا بحيث رئيس ، محترم مولوي عبدالقيوم بحيث معاون، محترم مولوي عبدالمنان بحيث مسؤول ارتباط و محترم مولوي محمد عمر بحيث مسؤول اداري انتخاب گرديدند همچنان هشت تن ديگر بصفت اعضاي شوراي متذكره تعيين گرديدند.

محترم مولوي احمد الله مطيع وزير فوايد عامه و محترم مولوي محمد-ولي وزير امر بالمعروف و نهي عن المنكر پيرامون نقش ايجاد شورا هاي متذكره از ديدگاه دين مبين اسلام مفصلاً صحبت نمودند.

په سريلانكا كي ...

بريد وشو او يو څه ټپي شوه .

خبر ځايونو زياته كړه چې د جمهوري رياست د انتخاباتو په پيل كيدو سره د سريلانكا د پوليسو او د وسله والو پوځونو په زرګونو تنو افرادو د رايو وركولو په مركزونو كي سخت امنيتي تدبيرونه ونيول.

د ګدون بيه له هيواد نه بهر		
ملك	شپږ مياشتنى	كلنى
پاكستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امريكا	US$75	US$150

تبصره

يهود او له تروريزم څخه ويره !!

په دې وروستيو كې نړۍ والو خپرندويو سرچينو د اسرائيلي رژيم په حواله دا خبره په ډاګه كړې ده چې نوموړي رژيم په دې خبره انديښمن دی چې په اردن كې نيول شوي كسان ټول په افغانستان كې روزل شوي او بيا په منځنى ختيځ كې د امنيت د ګډوډولو لپاره رالیږل شوي دي، نو له دې كبله د افغانستان اسلامي امارت د هغې سيمې د حالاتو لپاره هم خورا مهم ګواښ ورپيښ كړی او د اسرائيلو حكومت يې په دې اړه ډېر انديښمن كړی دی.

د اسرائيلو دا څرګندونې كه څه هم اوسنی دی خو په دې هكله د دوی انديښنې ډېرې زړې او ژورې دي او په دې لړ كې يې ډېرې منډې ترړې هم كړې دي، چې په مسكو ، تاجكستان او هند كې د افغانستان د اسلامي امارت له مخالفينو سره د دوی د سفيرانو تماسونه او مشورې او د اسلام په خلاف پټ سازشونه له هيچا هم پټ نه دي. دا چې اسرائيل څنګه او په كومه خوله د تروريزم يادونه كوي او په څه ډول د خپلې خطرناكې ترهه ګرې شبكې «موساد» پر كړو وړو پرده اچوي له اخلاقي پلوه د دوی پر سپين سترګې دلالت كوي، ځكه چې په اسلامي نړۍ كې له كلونو راهيسې د دوی تر هه ګرې هڅې نړۍ وال نوم او شهرت لري او په سل ګونو داسې پيښو كې يې لاس لرنه ښيځي په اثبات رسيدلې ده ، او هغه څه چې دوی په خپل چاپيريال او عربي نړۍ كې تر سره كړي، د ابليس او انګليس له وسه وتلې خبره ده ، خو دا يوه جلا موضوع ده چې د دوی دا كرغيړن كړه وړه او خوځښتونه د ملګرو ملتو، كفري زبرځواكونو او په اصطلاح د بشري حقونو د ادارو له خوا په قانوني ډول توجيه كيږي او ټول يې په يوه خوله ملاتړ كوي، كه څه هم د هغوی دا ټول ملاتړ بيا هم د نړۍ والو په سترګو لاس نشي ايښودلای او نه واقعيتونه په بل رنګ څرګند ولای شي، خو په هر صورت دوی ټول په خپلو كې د انډيوالي مسولېتونه سرته رسوي، او له همدې كبله په يوه وخت يو له يوې خوا او بل له بل لورې خپلې انديښنې او اعتراضونه څرګندوي.

نو د اسرائيلو د خپل ځانې نيت او مرام په نظر كې نيولو سره چې د اسلام په مقابل كې يې لري ويلای شو چې د دوی دا انديښنه رښتيا هم په ځای ده ځكه د منځنی اسيا هيوادونه چې نن سبا ځان ته خپلواك او د روس له ولكې وتلي هيوادونه وايي، همدغه د افغاني مومنو مجاهدينو له بركته يې دا نوم موندلی دی، او همدغه د افغانستان جهاد د كشمير مجاهدينو ته نوی ساه او نوی هوډ وركړ او همدا وجه ده چې هندوستان هم له اسرائيلو سره په دې انديښنه كې برابر شريک دی اسرائيل په دې پوه شوی دی چې د افغانستان اسلامي امارت د همغه جهاد وارث دی چې شوروی اتحاد يې د بې شانه لويي او غرورنه راكوز او سمه نيمه نړۍ يې د هغه د ظلم او زياتي څخه وژغوره، نو كيدای شي چې د فلسطين او شاوخوا سيمو اوسيدونكي مسلمانان پر همداسې يو غورځنګ راپورته شي، چې بيا به د صلاح الدين ايوبي كيسې راتازه او مختيوی به يې ددې يو موټی يهودي ولس له واكه وتلې خبره وي.

د افغانستان د حالاتو همدغه څېړنه او پيژندګلوي ده چې د اسلام خطرناک دښمنان « يهود، هنود او نصارى» يې په خپلو كې كلكې او پخې ورورۍ ته مجبور كړي او خورا يو بدمرغه مثلث يې جوړ كړی دی او همدا دوی دي چې كه د نړۍ په هر ګوټ كې د اسلام يو څرک ويني نو سمدلاسه د بنياد ګرايي او مذهبي تعصب ټاپه پرې ولګوي او د اوريكو او ترهه ګرو په نامه يې د وژلو، نيولو او ځورولو لپاره مټې راونغاړي او دا په بيلا بيلو هيوادو كې زندانونه اچول شوي خلک همدغه مسلمانان دي چې دوی يې اور پكي او افراطي بولي او بس همدغه اسلام دی چې دوی بنياد ګرايي ورته وايي، خو افسوس دی چې د اسلامي نړۍ حاكمان يې تر كله په داسې درانده خوب ويده وي .

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Printed by: Emirat Printing Press